NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE

# د افغانستان د ۲۰۱۴ کال ټاکنو په اړه وروستي مالومات

**د ۲۰۱۴ کال د جون میاشتې ۵ مه**
**۹ ورځې تر دویم پړاوو ټاکنو پورې**

**ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ (NDI) په افغانستان کې د کتنې یو ماموریت په لاره اچولي او په ترڅ کې یې په دې هېواد کې د اپریل میاشتې د ۵ مې (د وري میاشتې دې ۱۶ مې) نېټې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو له لړۍ څخه دمخه، په بهیر کې او وروسته شننه ترسره کوي.**

## د طالبانو د بریدونو په اړه د رپوټ ورکولو څخه د رسنیو د ائتلاف تحریم

د افغانستان د رسنیو د بنسټونو یو ائتلاف داسې ژمنه کړېده چې د ټاکنو د دویم پړاو په بهیر کې چې د جون د میاشتې په ۱۴مه نیټه ترسره کیږي، د طالبانو د بریدونو په اړه به د رپوټ ورکولو څخه ډډه وکړي. همداشان، دوی څرګنده کړه چې، د ټاکنیزو سیالیو په ټاکلې موده کې به د بریدونو په اړه د ډیرو رپوټونو د خپرولو څخه ډډه وکړي.

د ټاکنو په ورځ د طالبانو په اړه د رپوټ ورکولو څخه بایکاټ، د افغانستان د رسنیزو بنسټونو د مدیرانو د ملي کنفرانس لخوا د خپور شوي ۱۱ ماده ایز پرېکړه لیک څخه یو ماده ده چې د مې میاشتې په ۲۶مه نېټه په لاره اچول شوی وو . په دې کنفرانس کې شاوخوا ۱۲۰ تنه د رسنیو استازې سره را غونډ شوي وو چې د پام وړ ټکی (فوکس) یې د رسنیو ونډه په دویم پړاو ټاکنو باندې وه.

مجیب خلوتګر، د افغانستان د آزادو رسنیو څخه د ملاتړ د غیردولتي اداري (نی) د بنسټ اجرائیوي رئیس ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ NDI ته وویل، د افغانستان رسنۍ د طالبانو د قوت او نفوذ په اړه د مبالغې په تور تورن شوي وو. د ټاکنو په ورځ د طالبانو په اړه د خبرونو د خپرولو څخه بایکاټ کول به د دې ذهنیت د له منځه وړلو لپاره یو حل وي.
فهیم دشتي، د افغانستان د خبریالانو د ټولنې اجرائیوي رئیس او په کابل کې د یوې اونیزې مجلې پخوانی اډیټر چې اوس مهال فعالیت نه لري، ملي ډموکراټیک انستیټیوټ ته وویل چې، د طالبانو اړوند رپوټونو د خپرولو څخه بایکاټ به وکولای شي د رأیه اچوونکو په ګډون کې د پام وړ زیادښت راولي. ښاغلي دشتي زیاته کړه " که چېرې د رسنیو سرلیکونه د یاغي توب او نا آرامیو په رپوټونو تور شوي وي، نو دا بیا خامخا په ټاکنو د خلکو په ګډون باندې پوره اغېزه لري."

ښاغلی حشمت الله دادفر، د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د رسنیو د کمېسیون مرستیال ملي ډموکراټیک انستیټیوت ته وویل چې، کمېسیون د رپوټونو نه خپرول یا بایکاټ نه تائیدوي. نوموړي زیاته کړه، خلک دا حق لري ترڅو وپوهیږي چې د ټاکنو په ورځ څه پېښېږي او رسنۍ باید د امنیت اړوند خبرونه د "مبالغې" پرته خپاره کړي.

همداشان د کنفرانس ګډونوالو دا ژمنه کړې وه چې، د دویم پړاو ټاکنو په بهیر کې به د نژادي، مذهبي او ژبني تعصباتو د رامنځته کولو څخه مخنیوی وکړي. په هر حال، دې ۱۱ ماده ایز پرېکړه لیک داسې غوښتنه کړیده چې د نوماندو په اړه د ګونکسیو دخپور څخه ډډه وشي، د ټاکنیزې لړۍ په اړه د عامه وګړو د پوهاوي کچه لوړه شي او په بې پلوه توګه د خبري رپوټونه خپاره شي.

## د ټاکنو خپلواک کمېسیون پداسې حال کې د دویم پړاو لپاره د تالاشي کوونکو ګومارنه پیل کړې چې د لمړي پړاو ټاکنو د ښځینه تالاشي کوونکو معاش لا تر اوسه نه دې ورکړل شوی

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د څرګندونو پر بنسټ، د شپږو ولایتونو د هغه ښځینه تالاشي کوونکو معاشونه چې د اپریل د میاشتې د ۵ نېټې د ټاکنو لپاره د رأیې اچوونې په مرکزونو کې ګومارل شوي وې، نه دي ورکړل شوي. خو د پاتې ۲۸ ولایتونو د ښځینه تالاشي کوونکو معاشونه ورکړل شوي دي.

د دې شپږو ولایتونو له تالاشي کوونکو برسېره، د نورو ولایتونو څخه اوس مهال هم ۲۷۰۰ ښځینه تالاشي کوونکو ته باید د دوی معاشونه ورکړل شي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون ملي ډموکراټیک انستیټیوټ ته وویل چې، د دې تالاشي کوونکو څخه د ځینو نومونه د ګورمانې په وروستې لړلیک کې نه وو او ځینو نورو یې چې د معاش غوښتنه کړې ده د اپریل د میاشتې په ۵ نېټه د ټاکنو پر ورځ په خپلو دندو کې شتون نه درلود. د کورنیو چارو وزارت وویل، د ۱۲۸۴۴ روزل شویو تالاشي کوونکو څخه شاوخوا ۱۰۰۰ تنه د ټاکنو په ورځ ناسوب وو.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون او د کورنیو چارو د وزارت ۱۳۰۰۰ تنه ښځینه تالاشي کوونکي د اپریل د میاشتې د ۵ نېټې ټاکنو لپاره ګومارلې وې. د دویم پړاو ټاکنو لپاره دوی په پام کې لري چې ۱۲۸۴۶ تنه ښځینه تالاشي کوونکي پداسې ترتیب سره چې د رأیه اچوونې هر مرکز کې به دوه تنه وي، وګوماري. د افغانستان د مدني ټولنې شبکه د ګومارلو په برخه کې له دوی سره مرسته کوي.

د کورنیو چارو وزارت وویل چې د ټاکنو د دویم پړاو لپاره ښځینه تالاشي کوونکو ته به ۱۷۵۰ افغانۍ (شاوخوا ۳۰ امریکایي ډالره) ورکړل شي، دا پداسې حال کې ده چې ۱۷۵۰ افغانۍ به د دې ښځو محرم ته ورکول کیږي. هغه ښځینه تالاشي کوونکو ته چې په لمړي پړاو ټاکنو کې ګومارل شوي وې، ۵۰۰۰ افغانۍ (شاوخوا ۸۶ امریکایي ډالره) ورکول کیدل.

په افغانستان کې د ۱۳۹۳ کال له ټاکنو څخه د کتنې - شننې نړیوال ماموریت
د لازیاتو مالوماتو لپار له: **AfghanElections2014@ndi.org** سره په اړیکه کې شئ
کابل: **+93 (0) 794-713-033** واشنګټن ډي سي: **+1 202-728-5541**
له: **NDI.org** او **AfghanistanElectionData.org** څخه لیدنه وکړئ

## ملي ډموکراټيک انسټيټيوټ په سيمه ايزه کچه د اپريل د ۵ نېټې د ولسمشريزو ټاکنو د پايلو په اړه د مالوماتو لپاره تعاملي (Interactive) نقشه په لاره اچولې

افغان سياسي فعالين، مدني اداري او نړيوالې ټولنې غړي اوس کولای شي چې له ولسواليو څخه را نيولې د رايې ورکوونې د مرکزونو په کچه د افغانستان د مې مياشتې د ۵ نېټې د ټاکنو په اړه مالومات، د ملي ډموکراټيک(NDI) لخوا د چمتو شوې تعاملي نقشې په کارولو سره تحليل کړي. دا نقشه د ان ډي آی-افغانستان د ټاکنو په معلوماتي ويب پاڼه کې موجوده ده http://2014.afghanistanelectiondata.org/results/.




| District | Total | Dr. Abdullah Abdullah | Dr. Mohammad Ashraf Ghani Ahmadzai | Zalmai Rassoul | Prof-Abdo Rabe Rasool Sayyaf | Other Candidates |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Total | 787,159 | 389,584 | 248,220 | 64,811 | 59,107 | 25,437 |
| Kabul | 623,669 | 332,902 | 188,930 | 57,884 | 27,427 | 16,526 |
| Paghman | 23,658 | 4,252 | 3,027 | 568 | 15,063 | 748 |
| Bagrami | 22,283 | 7,006 | 11,480 | 798 | 1,921 | 1,078 |
| Surobi | 20,529 | 1,229 | 14,333 | 1,769 | 1,261 | 1,937 |
| Qarabagh | 16,158 | 6,889 | 3,836 | 701 | 3,416 | 1,316 |
| Shakardara | 15,518 | 7,840 | 3,022 | 639 | 3,468 | 549 |

دا تعاملي نقشه دا موکه برابره وي ترڅو د پايلو مالومات په لازياته ژوره توګه تحليل شي، او د لازيات تحليل په موخه، دا ويب پاڼه په ماشين کې لوستل کېدونکي CSV فارمټ کې د ډانلوډولو لپاره مالومات چمتو کوي.

د ۲۰۱۴ کال مالومات، د طالبانو د واکمنې له راپرځېدو وروسته په افغانستان کې د ټولو ملي ټاکنو په اړه مالومات رانغاړي او کاروونکي په دې توانوي چې د پنځو تېرو ټاکنو په ترڅ کې د رايې ورکوونې خانګړتياوې وآزمويي.

ملي ډموکراټيک انسټيټيوټ پلان لري چې د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو د پړاوو په ترڅ کې خپله د مالوماتو ويب پاڼه نوې کړي.

د جون د ۱۴ نېټې د دوهم پړاوو ټاکنو څخه مخکې به ملي ډموکراټيک انسټيټيوټ د نوماند د فعاليتونو او د رايې ورکوونې د مرکزونو ترل کېدو په اړه انځوريزه مالوماتي نقشه خپره کړي.

ويب پاڼه د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو د پايلو هغه معلومات کاروي چې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون(IEC) لخوا په ډاګه شوي دي. د ټاکنو د خپلواک کمېسيون(IEC) لخوا د دې مالوماتو وړاندې کول د تېرو ټاکنو پرتله په دې ټاکنو کې د روڼتيا په برخه کې وده ښيي.

## د ټاکنو خپلواک کمېسيون پورې اړوند د رسنيو کمېسيون په هغو رسنيو چې د ټاکنو په لومړي پړاوو کې سرغړونې کړې وې فشار راوړی چې خپلې جريمې ورکړي.

د ټاکنو د خپلواک کمېسيون دې رسنيو کمېسيون له خرګندونو سره سم، د دوه رسنيو پرته ټولو هغو رسنيو چې د ټاکنو په لمړي پړاوو کې د ټاکنيزې مقررې څخه د سرغړونې له کبله جريمه شوې وې،خپلې جريمې ورکړي دي.

د مې په ۱۲ نېټه، د رسنيو کمېسيون د رسنيو په ۱۴ ډلو غږ وکړ چې خپلې هغه جريمې دې ورکړي کومې چې د ټاکنيزو سياليو او د سکوت په موده کې د ټاکنيزو مقرراتو سره سم فعاليت کولو کې د پاتې راتګ له کبله ورباندې ايښودل شوي دي. د رسنيو د کمېسيون مرستيال رئيس، حشمت الله رادفر، ملي ډموکراټيک انسټيټيوټ ته وويل چې، د رسنيو کمېسيون د ټاکنو له خپلواک کمېسيون څخه وغوښتل چې د هغه رسنيو باورليکونه دې لغوه کړي، چې د خپلو جريمو له ورکولو يې ډډه کړې. هغه زياته کړه چې ډېريو د هغې ناستې په تعقيب چې د مې په ۲۸ نېټه يې د رسنيو له استازو سره لرله، خپلې جريمې ورکړي.

رادفر وويل که چېرې د رسنيو دوه پاتې ډلې د ټاکنو تر ورځې پورې خپلې جريمې ور نکړي، باورليکونه به يې لغوه شي. په پايله کې به دا ډلې د رايې ورکوونې مرکزونو، مطبوعاتي کنفرانسونو او يا د ټاکنو اړوند نورو محلونو ته لاسرسی و نلري.

رادفر وويل، دواړو نوماندو ته د يوشان او ناپلوه پوښښ د برابرولو په ګډون، په رسنيزو ادارو به د ټاکنو په دوهم پړاوو کې ورته مقررات عملي شي. د دې کميسيون له رسنيو څخه د خار د دريم ګړي اړخ فعاليتونه دا ښيي چې ډېريو رسنيو د دوهم پړاوو ټاکنو د ټاکنيزو سياليو په لومړی اونۍ کې دواړو نوماندو ته يو شان خپرونې درلودې.

که څه هم، د رسنيو کمېسيون د ټاکنو په لومړي پړاوو کې د رسنيو په خپرونو کې پلويتوب په ګوته کړ چې په پايله کې يې جريمه شوې. راه فردا، نور او خاور ټلويزيونونو له عبدالله عبدالله پلويتوب وښود، حال دا چې افغان، آينه، باتور او نګاه ټلويزيونونو له اشرف غني احمدزي څخه پلويتوب وښود.

### د وروستيو مالوماتو لنډيز

- د هغو مرکزونو په ګډون چې په لومړي پړاوو کې بند وو، د کورنيو چارو وزارت د رايې ورکوونې د مرکزونو امنيتي شننه ترسره کوي ترڅو مالومه کړي آيا اړوند ترل شوي مرکزونه به جون په ۱۴ نېټه پرانيستل شي او که نه.
- د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د سيمه ايزو عملياتو مشر د مې مياشتې په ۲۹ نېټه کابل ته د راتګ په وخت کې د سړک غاړې ماين چاودنې په پايله کې ټپي شوو.
- د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون ټينګار وکړ لکه څنګه چې پلان شوی وو، دوی به په دې ونه توانيږي چې د جون تر ۱۲ نېټې پورې د ولايتي شوراګانو اړوند ټول شکايتونه طې مراحل کړي، ښايي د وروستيو پايلو اعلان لا نور هم وځنډيږي.
- طلوع نيوز راپور ورکړ چې د ملي دفاع وزارت اعلان وکړ چې ۳،۰۰۰ تنه نوي امنيتي پرسونل ته يې روزنه ورکړې ترڅو د جون په ۱۴ نېټه د ولسمشريزو ټاکنو د دوهم پړاوو لپاره امنيت برابر کړي.

په افغانستان کې د ۱۳۹۳ کال له ټاکنو څخه د کتنې - شننې نړيوال ماموريت
د لازياتو مالوماتو لپار له: AfghanElections2014@ndi.org سره په اړيکه کې شئ
کابل: +93 (0) 794-713-033 واشنګټن ډي سي: +1 202-728-5541
له: AfghanistanElectionData.org. او NDI.org څخه ليدنه وکړئ